مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

٢٠٢۶/٠۶/١۵

# د انسانیت په مینه مست



یو (نور) دی او بل (نار). نور د روښنایۍ قاصد دی او نار د تودوخې او سوزولو.
خو،
کله چې د عشق جذبه په مستۍ شي؛ نو عاشق ته د دې دواړو ترمنځ توپیر ختم شي.
ځکه خو ارواښاد محمد دین مقید وايي:

**خبر و ابراهیم ځکه یې اور ته و دانګلې**
**چې یو دی لطافت کې نور او نار د محبت**

ابراهیم ع د خدای ج د وحدانیت په عشق کې مست و، نمرود ته یې د تعظیم سر ټیټ نکړ، اور ورته د نور په څیر لطیف ښکاره شو او ور وې دانګل.

خبر دی چې د خوست په لکنو بازار کې په اور کې د ایسار یوه انسان، د ژغورلو لپاره، دغو دواړو ورونو ( عبدالله او ذبیح الله) لمبو ته ودانګل، چې متاسفانه دواړه ستي شول.

د انسانیت په مینه کې د مستو دغو ځوانیمرګو ارواوې دې ښادې وي او د دوی کورنۍ ته دې الله ج دنیاوي او اخروي ښه عوضونه ورکړي.
کاش،
د دوی په نوم کوم ځلی جوړ شي چې په لیدلو یې د هر انسان له بل انسان سره د مرستې او همکارۍ جذبات را وپاریږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ